آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۱/۱۹

# منی، پاڼې

## موږ او ښاروي

## (د اوښلنو سترګو یوه خاطره)

...له هغي سيمي نه يې چې موږ وخوځولو، هري خوا ته به دي چې کتل تيي وی، داسي ښکلي تيي لکه لاسي چې جوړي شوي وي، دا تيي ټولي په ونو پټي وي، ما له موټر نه د تپو او د هغو له پاسه د ونو ننداره کوله. دا وخت منی و، طبعي منی، نه په زوره راوړل شوی منی.

د ونو پاڼي تر نيمايي ډيري زيړي او نوري شني يا نيمه شني وي، ما ويل ګني دا د افغانستان خلک دي چې په دوو برخو ويشل شوي دي او جګړه سره کوي؛ خو پاڼو جګړه نه؛ مينه سره کوله. باد به چې ښورولي او يو په بل سره لګيدي؛ تا به ويل چې يو بل په غيږ کي نيسي او سره ښکلوي.
په ونو کي د زيړو پاڼو شمير ډير وو. باد به چې لږ په زور کي شو، ژيړه پاڼه به يې له بيخه وشکوله او ښکته به يې په مځکه وغورځوله، خو شني پاڼي به اوښتي را اوښتي، لکه اتڼ چې کوي.

ما ته بيا د افغانستان مظلوم ژير رنګي خلک را په ياد شول چې جګړه، لوږه او وير يې ځنګه ډير ژر له پښو غورځوي او بيا تورو خاورو ته ليږدول کيږي، مګر واکداران، شتمن او ټوپکوالا اتڼ کوي...
او په پای کي موږ يو بل کلي ته ورسيدو، هلته هم تپه وه... دا د بريد پر کرښه پروت يو کلی و، د يوي ښکلي تپي په ښکتنی برخه کي جوړ شوی کلی. په کومه کوټه کي چې موږ د انتظار شيبي تيرولي، د بنديخاني په څير پنجرې درلودي، د پنجرو نه لږ وړاندي د خلکو کورونه ښکاريدل، دا تپه هم په ونو پوښلي وه او د ونو پاڼي ټولي ژيړي شوي وې.

دا مهال هم مازديګر و، هو يو بل مازديګر. ژيړی لمر د ژيړو پاڼو پر ښکلا يوه بله اضافه وه. زړه مي غوښتل چې آزاد مارغه شم، د تپي ونو ته ور والوزم، د زيړو پاڼوسره يو وارکينم، د سترې زړه کيسه ور ته تيره کړم خو...

هيڅ چا بل چا سره کار نه درلود، حتی هغه ښاروي چې زموږ له نظره دښمنان وو، هغوی هم يو بل ته څه نه ويل. د تپي د ونولو منځ نه يو کنډک غرڅي مخ په ښکته را رواني وي. زموږ د انتظار له خوني نه لږ وړاندي يوه ښکلي مانی ولاړه وه، يو ليوه ډولی غټ سپی له مانی نه ګرد چاپيره ګرځيده، ما فکر وکړ چې سپی به اوس غرڅو ته غاپي او حمله به ور باندي کوي، کتل مي چې غرڅي په نخرو او کرشمو را ښکته شوې، د سپي له ځنګه تيري شوې او...

د دي صحني په ليدلو سره سري داسي انګيرله چې سپي او غرڅي له پخوا نه سره دوستان وو. زما په زړه کي په ډيره نا اميدی تير شول چې د دوی حتی ښاروي چې په ځلوري روان دي، هم تفاهم او پوهاوي ته رسيدلي دي او خپلمنځي ستونزي نه لري؛ خو زموږ د وطن ځيني انسانان چې په دوو پښو روان دي او ځان ته اشرف المخلوقات هم وايي، بيا له داړونکو ښارويو نه لا زيات د نورو د وينو تږيولو شوقيان او تږي دي او هره شيبه يو د بل مرګ ته چمتو او لاس په ماشه دي.

چيري موږ،

چيري ښاروي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ